اجمل شینواری هلنډ ۲۰۰۹ د جنوری ۳۰

بسم الله الرحمن الرحیم

# ښاغلی پروفیسور علی احمد جلالی پیژندل شوي مسلمان افغان دي.

## رښتیا وئیل صواب او غیبت کول ګناه لرې، داسلام په مقدس دین کی دروغ او غیبت حرام ګڼل شویدې۰

په رښتیا چی خپل عیب د ولو منځ وې او انسان خپل عیب نشي لیدلې، نو له همدې امله بعضی مستعار لیکونکی ددې پرځاې چی دخپل وقت د ختاګانو په جبران ځه ولیکی، خپلو پخوانیو غداریوته دوام ورکوې، لا تراوسي هم زمونږد هیواد په مظلوم ولس ښه ساعت او سوکاله ژوند نه لوریږې ، او د دغه ټپی ولس په زخمونو دمالږې دوړول غواړې۰

عزتمندو لوستونکو :

په سریزه کی ډیر سر خوږې نه درکوم خو یو ځه لیکل غواړم چی دغه غیبت کوونکې ته دا په ډاګه کړم، چی زمونږ ولس خپل د تا په شان سیاسی سوادګر ښه پیژني ،دا ځکه چی د خپلی تش په نوم ایدیالوژیکې قافلې د هم سنګرو سره دې ستړې جفا'ګاني کړې، او دا تاریخ او بیا دغه ژوندې تاریخ ستا د کړو او وړو ګواهې ورکوې، ځکه تا خپل د فکر ملګرې د پردیو په لاس حلال کړې او ور ځخه خوند دې اخستې دي، او دا ستا په شان خلک چی په هر وخت کی د پردو په اشاره ټاپې په لاس ګرځې زمونږ د سترولس سترملی شخصیتونه لکه غازي امان الله هم بی رنځۀ ندي پریخې۰خو زه چی ستا دقلم اهلیت ګورم نو داسی راته ښکارې چی ته اوس هم د چا مامور یه ۰ پدې چی هرانسان چی ځنګه خپله وي نو بل ته هم هماغسی ګورې۰ که زه له تا اوس پښتنه وکړم، چی ته اوس چیرته اوسیږې او د چا دسوسیال ته پروت یه؟ نو خاماخه ستا ځواب به وې چی په ناورې کی اوسیږم او قبول شوې یم، کورنې هم راته راوستی ده۰ دلته غواړم ستا دلورې پوه شم چی ولی دي په خپل بل هیوادوال ښه او سوکالۀ ژوند نه پیرزو کیږې؟ ولې زمونږ د ولس سپځلې او پوه خلک نشي زغملې؟ ولی نه غواړې چی د دغه ولس هر یتم ماشوم ، هره کونډه او هرمعیوب په ۲۱ پیړې کی یو زړه سوانده زعیم پیدا کړې؟ ولې د ولسواکی ځخه ډارلرې؟ که د چا مامورهم یه لګ په خپل ولس زړه خوږ کړه۰ که در ځخه پښتنه وکړم چی ځه تحصیلات لرې؟ نو خاماخه ځواب نلرې ځکه چی په سر چپه قافله کی به درته ځه د مخکې تګ جانس برابر شواې وې۰ د افسوس ځاې دي چی په بهرکی ژوند کوې خو تر اوسه هم د علم او پوهۀ په ارزښت نې خبر چی دلته معیار پوهۀ او مسلک دي۰ دلته چی ځوک یو ډیرساده او اسانه دنده ته ګومارل کیږې نو په سرکې ازموینه حتمې ده، دا دبډو او واسطې ښار ندې او غربې نړې د پست مدرنیزم په عصر کی ژوند کوې۰ دلته په یو عالی موسیسې کی د پروفیسرې اخستل او د استاد په حیث دنده اخستل په خیرات نده، لوې زحمت او ښه استعداد غواړې۰ ډیردتاسف ځاي دي چی زمونږ د پوهاوې او استعدادنو ځخه د نړې سترهیوادنه علمی او اکدمیکې ګټې اخستلې شې خو مونږ ورپسی د تور او سپین ټاپې راخستې دي۰ رښتا واي چی عقل نباشد جان در عذاب است۰ ته دومره بی خبره یه چی د دي پر ځاي چی خپل تاریخ او ولس ته دمعلوماتو لپاره کتنه وکړې نو تللي او یو مارکسیستی ویب پاڼې ځخه دی بی اعتباره معلومات راټول کړې دي، او ځان دي ددغه ځادر لاندې خوندې کړې اي کاش چی یووه ریښتنې ایډیالوژې دي درلودې بیا عیب نوه خو اوس هر ځه د ماموریت لپاره کوي۰

ښاغلی پروفیسورعلی احمد جلالی کوم بی هویته شخصیت ندې۰ ښاغلی پروفیسور علی احمد جلالی په ملی او بین المللی کچۀ پیژندل شوي مسلمان افغان دي۰ زما په اند چی هغه وخت به تا مستعار لیکونکی قلم او کتاب نه پیژند چی هغه د سیمي په هکله ځیرنې کولې۰ تا به هغه وخت د افغانستان حربیه حدود نه پیژاند خو هغه د افغانستان د حرب تاریخ په ۱٤۰۰ صفوکې ولیکې، او که تا چیرته هم د افغان په ځیر په خپل هیواد کی لیک لوست کړاې واې او دخپل معاصر تاریخ ځخه لګ پوهاوې دي درلودي، نو تا ته به د ښاغلی پروفیسور جلالی او دهغه د منورې کورنې علمیت او افغانیت ښه درمعلوم واي۰



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ښاغلی استاد علی احمد جلالی دغزني ولايت د اندړو په ولسوالي کی ۳۰۰ کلنه اديره لري، پلارئي استاد غلام جيلانی جلالی د افغانستان د وتلو فرهنګي، متدينو او منورو څيرو څخه وه، او بيا لمر په دووه ګوتو نه پټيږي۰

پروفيسور علی احمد جلالی د واشنګتن د ملی دفاع په پوهنتون کی د نږدې ختيزلپاره د سهيلی آسيا د ستراتيژيک مرکز د ستراتيژيکو څيړنو يو وتلی پروفيسور دی . نوموړي د ۲۰۰۳ ميلادي کال له جنوری څخه د ۲۰۰۵ميلادي کال تر اکتوبر پوری د افغانستان د کورنيو چارو د وزير په توګه دنده ترسره کړي ده .

ښاغلی جلالی په کابل کی د وزارت تر دندې دمخه د افغانستان د ملی راديو د شبکی مدير او په واشنګټن ډی.سی کی د امريکا غږ د پښتو او پارسي خپرونو مبتکر رئيس وه . ښاغلی جلالی په څو ژبو کي د سياسی او نظامی مسئلو نامتو مبصردی . برسېره پردې په اکادميکو، اداري او ژورنالستيکی چارو او ليکوالی کي پراخه تجربه لري .

په ۱۹۸۲ ـ ۲۰۰۳ کلونو کي د امريکا غږ سره د خپلې دندی پر مهال، ښاغلي جلالي د افغانستان، ايران او تاجکستان لپاره د پښتو، دری او فارسی ژبو د خپرونو مشري په غاړه درلوده . د يوه ژورناليست په توګه يې په ۱۹۸۲ ـ ۱۹۹۳ کلونو کي د افغانستان جګړه او په ۱۹۹۳ ـ ۲۰۰۰کلونو کي د پخواني شوروي منځنی اسيا جګړې تر خپل پوښ لاندې راوستي وې . نوموړي د پخوانی شوروی د مرکزی آسيا جمهوريتونو ته پراخ او هراړخيز سفرونه لرل چې د هغو په پايله کي يې د سيمي د سياسي ، اقتصادي او ټولنيزو ودو او پراختياوو په هکله د امريکا غږ لپاره په سلګونو تحليلي راپوټونه ليکلي دي . د افغان پوځ پخواني منصبدار، استاد جلالي په افغانستان باندې د شوروي د يرغل په وړاندې د افغان مقاومت سره د مخکښ پوځی پلان جوړوونکي په توګه دنده اجراء کړي ده . هغي د افغانستان، بريتانيا، متحدوايالتونو او پخواني شوروي اتحاد په لوړو نظامی اکادميو کی زده کړې سر ته رسولي دي . .په اتو ژبو«انګليسی، پښتو، فارسي، عربی، ترکي، فرانسوي،اردو او روسي » کي د اثارو ليکونکی استاد علی احمد جلالی په سيمه کي د اسلامي غورځنګ په اړه د موضوعګانو په ګډون په سياسي، پوځي او امنيتي مسئلو کي د افغانستان،ايران او منځنی اسيا لپاره د ګڼ شميرکتابونواو مقالو مؤلف دی . د هغه اثار په متحدو ايالتونو، بريتانيی، افغانستان، پاکستان او ايران کی خپاره شوی دي .نوموړي ډېر وختونه داستراليا دملي تلويزيون په ګډون د متحدو ايالتونو په مهمو تلويزيوني شبکولکه ABC ABC CNN ,CBC ,NBC ,MSNBC ,FOX News ,PB او د کانادا د S, NPR کي د افغانستان د مسئلو په اړوند د مباصر دنده سرته رسولي ده .

همدا رنګه د استاد جلالي مقالي او تبصري په

Christian Science , Washington Post New York Times

Monitor,BaltimoreSun,KhalijTimes,FrontierPost

او د امريکا د متحدو ايالتونوپه ډېرو نورو خپرونو، د منځني ختيز ، سهيلي اسيا او اروپا يي هېوادونو په ورځپاڼو کي خپرې شوي دي .

استادعلی احمد جلالي د افغانستان د لوړو زده کړو په مؤسسو کی درس ورکړی دی . د متحدو ايالتونو د ملی دفاع په پوهنتون اوداسی نورو مؤسسو لکه :

,California ,Monterey ,l Postgraduate SchoolNava .S.U ,Army War College .S.U

and the British ,Kansas ,Fort Leavenworth ,Command and General Staff College

England ,Camberley ,Army Staff College

کي يي په پراخه کچه لکچرونه ورکړي دي .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

**دکارمخینه ( سابقه ) :**

• د نړدي ختیزلپاره د سهیلي آسیا د ستراتیژیکو څیړنو په مرکز کی مخکښ پروفیسور او د واشنګټن ډی.سی د ملی دفاع په پوهنتون کی د ملی ستراتیژیکو څیړنو د انستیتوت وتلی غړی.

• د افغانستان د کورنیو چارو وزیر «۲۸ جنوری ۲۰۰۳ ـ اکتوبر ۲۰۰۵»

• د افغانستان د ملی رادیو د شبکي مدیر او په واشنګټن ډی.سی کی. د امریکا غږ د پښتو او پارسي خپرونو رئیس«نومبر ۲۰۰۱ ـ جنوری ۲۰۰۳»

• په واشنګټن ډی.سی کی د امریکا غږ د پارسي خپرونو رئیس. «۱۹۹۷ ـ ۲۰۰۳»

• په واشنګټن ډی.سی کی د امریکا غږ د دری خپرونو رئیس. «۱۹۹۱ ـ ۱۹۹۷»

• په واشنګټن ډی.سی کی د امریکا غږ د پښتو خپرونو رئیس. « ۱۹۸۹ ـ ۱۹۹۱»

• د مرکزی آسیا لپاره د امریکا غږ ګرځنده خپلواک خبریال، «جولای ۱۹۹۳ ـ اکتوبر ۲۰۰۰»

• په متحدو ایالتونو او اروپا کی خپلواک دفاعی او امنیتی لکچر ورکوونکی «۱۹۸۵ ـ ۱۹۹۲»

• په واشنګټن ډی.سی کی د امریکا غږد پښتو څانګي مشر مسؤل- خپرونکی،«۱۹۸۲ ـ ۱۹۸۹»

• د افغانستان د مقاومت په مرکز کي لوړ پوړی مشاور، پیښور «۱۹۸۱ ـ ۱۹۸۲»

• د ملی دفاع وزارت د ښوونی او روزنی په ریاست کی مد یر، کابل «۱۹۷۷ ـ ۱۹۸۱»

د بهرنیو چارو وزارت د د دیپلوماسی په انستیتوت کي پروفیسور، کابل «۱۹۷۴ ـ ۱۹۷۷»

• د افغانستان جمهوریت د ملی دفاع په وزارت کي د وزیر د دفتر رئیس ، ۱۹۷۷

• په حربی پوهنتون او د افسرانو د عالی کورس پروفیسور، کابل «۱۹۶۱ ـ ۱۹۷۴»

**زده کړې :**

دافغانستان د حربی پوهنتون لیسانسه، پوځی زده کړې، ۱۹۶۱ •

• د متحدو ایالتونو د پلیو ځواکونو پرمختللی اکادمي پوځی زده کړې، ، دیپلوم ۱۹۶۴

• د افغانستان د افسرانو عالی کورس ماستري، کابل ، پوځی زده کړې، ۱۹۶۶

• د بریتانیه د پوځی افسرانو اکادمي (ارکانحربي) پوځی زده کړې، ۱۹٦۷

• د متحدو ایالتونو څخه په دفاعي اداره کي دیپلوم پوځی زده کړې،۱۹۷۸ Naval Postgraduat School


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

• د مسکو د Frunze له اکادمۍ څخه د پوځی ستراتیژۍ او اوپراسیوني مهارت په اړه دیپلوم ، ۱۹۸۰ پوځی زده کړې،

• د واشنګټن ډی.سی د نړیوال سیاست له انستیتوت څخه په مقایسوي سیاستونو کی مافوق لسانس دیپلوم، دسیاسی علومو زده کړې ۱۹۹۶

په خټه پوخ غلجي پښتون دي خو دا کوم امتیاز ندي ځکه چی د افغانستان په هر قوم او قبیلي پورې تړاو ویاړ دي، او داسی لوی علمی نړیوال شخصیتونه په قوم ، قبیلي او یو ولایت پورې تړل خپله لوېه ګناه ده ، او بیا په افغانستان کی چی د چا پلار، نیکه، کلی، کور او اندیره معلومه وي، هغه خپله د هر څه ګواهي ورکوي. زما په اند دا د بل مامور او دټاپي خاوند لکه د نازیانو په شان د خلکو ويني معانه کوي چی بیا د نړې خلکوته هغه ترخي او نه ښنونکي خاطرې تازه کړې.

د یادوني وړ بولم چی اوس په ۲۱ پیړې کی د نړې ستر ستر هیوادنه خپلمنځي سرحدونه ماتوې، خو زمونږ د هیواد ځیني داسي دټاپو خاوندان، دپردیو لاسپوځي او بی پوهاوې اشخاص مونږته په کلي، کور او کوڅه کی د سرحدنو جوړول غواړې، چی دا به هیڅ یو په هیواد او ولس مین افغان ته د منلو وړ نوی.

په پاي کي د افغانی ویب پاڼو درنو او زیار کښو چلونکو نه په ډیر درناوي هیلمند یم، چی د هر چاه بی بنسټه لیکني او هغه هم په مستعارو نومونو لیکني بیا زمونږ د وران وجاړ هیواد څو په ګوتو شمار ملی ځیرو په هکله د نشرولو څخه مخ نیوې وکړې، تر څو نورو داسی بی بنسټه لیکونه څخه مخ نیوې وشي. زما په اند د ټولو سالمو اند خانودانو انسانی، اسلامی او افغانی دنده ده، چی د داسی مامور شویو اشخاصو ناپاکه قلمونه د سپینو پاڼو نه لنډ کړې.

د یو سوکاله او ودان افغانستان په هیله


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de